# څرنګه کولای شئ د خپل سفر سند نوې کړئ

د سفر اسنادو نوي کول 5 مرحلې لري:

**1.** د برېښنالیک "ای میل" له لارې د پناه غوښتنې خدمت ته غوښتنه وکړئ

**2.** د رسمي اعلامیې فورمه د پوستې له لارې د پناه غوښتنې د برېښنالیک له لارې خدماتو ته واستوئ.

**3.** په خپل شــــخصــــي برېښـــــنالیک پته باندې د 4 او 5 مرحلو په اړه د پناه غوښتنې خدمت لخوا ځواب او لارښوونې ترلاسه کړئ.

**4.** اړین ا سناد د پولیسو د پا سپورټ دفتر ته (یا د بهرنیانو څانګه د بهرنیانو په ریاست کې) ته وسپارئ.

**5.** خپل نوې شــوې ســفري ســند د پناهندګۍ د ســـیمه ایز دفتر (یا د پناه غوښتنې دفتر څانګې) څخه ترلاسه کړئ.

پاملرنه: که تاسو په کورنۍ کې یوازینۍ مور یا پلار یاست، یا دا چې بل یو د مور یا پلار په یونان کې نه یاست یا که تاسو یو بې سرپرسته کوچنۍ یاست، د خپل سفر اسنادو نوي کولو لپاره تاسو باید د [سیمه ایز پناه غوښتنې دفتر یا د پناه غوښتنې څانګې] ته عریضه وکړئ، ستاسو د اوسیدو ځای پورې اړه لري. تاسو به د سیمه ایز دفتر یا د پناه غوښتنې څانګې څخه نور لارښوونې ترلاسه کړئ.

1

**د بریښنالیک له لارې غوښتنه وکړئ.**

✓ د خپل سفر سند نوي کولو لپاره، تاسو باید یو غوښتنلیک د لاندې بریښنالیک پتې له لارې د پناه غوښتنې خدمت ته واستوئ:
GAS.traveldoc@migration.gov.gr

✓ تاسو کولای شئ دلته د غوښتنلیک فورمه ومومئ. یوناني او انګلیسي ژبو کې نسخې شتون لري.

✓ تاسو باید د خپلې کورنۍ هر غړي لپاره یو جلا بریښنالیک واستوئ، چې د غوښتنلیک جلا فورمه ولري.

✓ کله چې د بریښنالیک لیږئ، تاسو باید د خپل غوښتنلیک فارم سره وروستی "تازه" ډیجیټل پاسپورت عکس ضمیمه کړئ.

✓ د بریښنالیک "موضوع" کربښه باید د سفر اسنادو نوي کیدل وي د مثال په توګه "Travel Doc Renewals" او تاسو باید خپل د استوګنې جواز"اقامه" شمیره هم ولیکئ چې تاسو یې په خپل ملکیت کې لرئ، او کوم چې باید اعتبار ولري (د بیلګې په توګه د سفر اسناد نوي کول "Travel Doc Renewals P123456789").

✓ ستاسو د هستوګنې ځای او اړیکې معلومات د کوم بدلون په صورت کې، دا ستاسو وظیفه ده چې د نږیوال محافظت ګټه اخیستونکو لپاره د خپلواکه پناه غوښتنې مرکز ته خبر ورکړئ.

2

**د پوسټ له لارې رسمي اعلامیې فورمې واستوئ د بریښنالیک له لارې.**

**تاسو باید د پوسټې له لارې د رسمي اعلامیې فورمې لاندې پته ته واستوئ:**

ΕΛΛΗΝΙΚΗ ΔΗΜΟΚΡΑΤΙΑ
Υπουργείο Μετανάστευσης & Ασύλου

Asylum Service-Ministry of Immigration and Asylum
Autonomous Asylum Unit for Beneficiaries,
2, P. Kanellopoulou St., Zipcode 10177.

که تاسو د ټکسیس نیټ (taxisnet) کوډونه لرئ، تاسو کولی شئ د بریښنالیک( ایمیل) یا gov.gr ویب پاڼې له لارې ډیجیټل اعالمیه صادر کړئ.

https://www.gov.gr/ipiresies/polites-kai-kathemerinoteta/psephiaka-eggrapha-gov-gr/ekdose-upeuthunes-deloses

او د خپلې دعوې سره جدی اعلامیه په بریښنالیک (ایمیل) کې واستوئ gas.traveldoc@migration.gov.gr

✓ په ځانګړي ډول رسمي اعلامیې په لاندې ډول دي:

- **رسمي اعلامیه A’** (یا ضمیمه A’) ، چې په هغې سره تاسو دا اعلان کوئ چې تاسو هیڅکله د کوم جرم یا کوم بل جدي جنایی جرم لپاره محکوم شوی نه یاست. که تاسو کوم ماشومان لرئ چې عمر یې له پنځلسو (15) کلونو پورته وي، نو تاسو باید د خپل ماشوم (ماشومانو) لپاره ور ته اعلامیه فورمه لاسلیک کړئ او دواړه والدین (مور او پلار) باید د اعلامیې فورمه لاسلیک کړي. تاسو رسمي ا اعلامیې A' **دلته** موندلی شئ: پښتو، امارایک، عربي، انګلیسي، فارسي، فرانسوي، تیګرینیا او اردو.

- **رسمي اعلامیه B’** (یا ضمیمه B’): تاسو باید دا فورمه یوازې هغه وخت ولیږئ که تاسو غواړئ د خپلو کم عمر ماشومانو سفري اسناد نوي کړئ. پدې صورت کې، تاسو باید په رسمي ډول اعلان وکړئ چې تاسو د دوی د سفر اسنادو نوي کولو سره رضایت لرئ. دواړه والدین "مور او پلار" باید دا فورمه وسپاري. د رسمي اعلامیې B’ (یا ضمیمه B’) **دلته** موندل کیدی شي: پښتو، امارایک، عربي، انګلیسي، فارسي، فرانسوي، تیګرینیا او اردو.

- د رسمي اعالمیې فورمې باید لاسلیک شي او لاسلیکونه باید د ښاریانو د خدماتو مرکز (CSC) یا د پولیسو په مرکز کې تایید شي یا په gov.gr ویب پاڼه کې ستاسو د ټکسیس نیټ (taxisnet)کوډونو په کارولو سره آنلاین.

!

د الیکترونیکی غوښتنلیک او دوه پورته ذکر شوي فورمو په اړه، **نور مهم معلومات شتون لري** چې تاسو یې باید **په تفصیلي لارښوونو** کې ولولئ. دا لارښوونې په پښتو، امهاریک، عربي، انګلیسي، فارسي، فرانسوي، تیګرینیا او اردو کې شتون لري.

3

## د پناه غوښتنې خدمت لخوا ځواب او لارښوونې ترلاسه کړئ.

- ✓ ډاډ ترلاسه کړئ یا متمن اوسئ چې ستاسو د شخصي بریښنالیک پتې املا سمه ده چې تاسو په لیرل شوي الیکترونیکی غوښتنلیک کې شامله وه.
- ✓ د لنډې مودې وروسته، د پناهندګی خدمت لخوا به تاسو ته ځواب درکړل شي. دا ځواب به په هغه ژبه لیکل شوی وي چې تاسو پرې پوهیږئ.
- ✓ دا ځواب به تاسو ته خبر درکړي چې ایا ستاسو د سفر سند نوي شوی یا نه (که چیرې د نوي کولو په اړه مثبت یا منفي پریکړه صادره شوې وي) او پدې کې به اړونده لارښوونې شاملې وي.
- ✓ که ستاسو د سفر اسنادو نوي کولو پریکړه مثبت وي، هغه بریښنالیک چې تاسو یې ترلاسه کوئ تاسو به **د هیلینیک پولیسو پاسپورټ دفتر (یا د بهرنیانو ځانګې)** ته راجع کړئ ترڅو نور اړین اسناد وړاندې کړئ.
- ✓ په ځانګړې "خاصه" توګه، ځواب به دقیقا مشخص کړي چې د کوم پاسپورټ دفتر (یا د بهرنیانو ځانګې) ته باید لاړشئ، او کوم اسناد چې تاسو یې ځان سره باید راوړئ.
- ✓ که چیرې د پناه غوښتنې خدمت ستاسو د سفر اسنادو نوي کولو پریکړه ونکړي، نو تاسو به د دې په مطابق خبر شئ، چې د کوم پناه غوښتنې دفتر یا د پناه غوښتنې ځانګې ته لاړ شئ چې د (غیر تجدید "نه نوی کیدو") لپاره اړونده پریکړه ترلاسه کړئ، په هغه بریښنالیک کې چې تاسو یې ترلاسه کوئ.

4

## د پاسپورټ دفتر ته د اړتیا وړ اسناد وسپارئ (یا د بهرنیانو خانګې ته)

✓ کله چې تاسو د پاسپورټ دفتر ته ځئ (یا د بهرنیانو خانګې ته)، تاسو باید ځان سره لاندې اړین اسناد راوړئ:

- د بریښنالیک یو چاپ کاپی چې تاسو د پناه غوښتنې خدماتو څخه ځواب په توګه ترلاسه کړی.
- د لاربښوونې فایل چې پدې بریښنالیک سره ضمیمه و.
- ستاسو وروستي سفری سند.
- ستاسو د اوسیدو جواز (ADET)، کوم چې باید داعتبار وړ وي.
- دوه (2) د پاسپورټ وروستي عکسونه، چه د یوناني پاسپورت لپاره مناسب دي.
- د سفر سند جاري کولو لپاره د اداري فیس رسید.

!

د پاسپورټ دفتر (یا د بهرنیانو خانګې) کې، تاسو ته به د اړین اسنادو سپارلو لپاره د رسید سند ثبوت درکړل شي. تاسو باید د دې رسید ثبوت د لاسه ور نه کړئ، ځکه چې تاسو به ورته اړتیا ولرئ د سفر سند ترلاسه کولو لپاره.

ΕΛΛΗΝΙΚΗ ΔΗΜΟΚΡΑΤΙΑ
Υπουργείο Μετανάστευσης & Ασύλου

5

**خپل د سفر نوي سند د سیمه ایز پناه غوښتنې دفتر یا د خپلواکه پناه غوښتنې خدمتي څانګې څخه ترلاسه کړئ.**

- ✓ تاسو به د خپل نوي سفر اسناد د سیمه ایز پناه غوښتنې دفتر یا د خپلواکه پناه غوښتنې څانګې څخه ترلاسه کړئ چې ستاسو د استوګنې ځای سیره اړوند وي.
- ✓ هغه ځواب چې تاسو د بریښنالیک له لارې د پناهندګی خدمت لخوا ترلاسه کړی دقیقا دا مشخص کوي چې کوم سیمه ایز دفتر (یا خپلواکه پناه غوښتنې څانګې) ته باید لاړشئ، ترڅو د خپل نوي سفر سند ترلاسه کړئ.
- ✓ **د سیمه ایز پناه غوښتنې دفترونو او د خپلواکه پناه غوښتونې څانګو** د اړیکو او پوستي پتې وګورئ.
- ✓ د خپل نوي شوي سفري سند ترلاسه کولو لپاره، تاسو باید د پناه غوښتنې خدماتو ویب پا ڼه کې **د سفر اسنادو نوي کولو برخې** کې د هرډول نوي اعلاناتو لپاره وګورئ.
- ✓ هر ځل چې د سفر سند نوی کیږي، اړوند اعلان یې ځړول کیږي. د دې لپاره چې وګورئ چې ایا ستاسو سند نوی شوی دی، تاسو باید د "**سفر اسنادو نوي کولو**" برخې کې د وروستي اعلانونو لپاره وګورئ او د خپل وروستي سفر سند شمیرې مطابق ویلټئ.
- ✓ اعلان چې ستاسو د وروستي سفر سند شمیره پکې شامل ده نیټه او وخت ټاکي چې کله تاسو باید د خپل نوي سفر سند ترلاسه کولو لپاره حاضر شئ.
- ✓ تاسو باید د خپلې تازه نوي سند ترلاسه کولو لپاره په اعلان کې د ټاکل شوي دقیقې نیټې او وخت باندې راشئ.
- ✓ تاسو باید پخپله په شخصي توګه راشئ. تاسو نشئ کولای چې بل کوم یو کس د دې د ترلاسه کولو لپاره ولیږئ.

✓ همدارنګه، تاسو باید د پناه غوښتنې خدماتو دفتر کې د ترلاسه کولو پرمهال ماسک واغوندئ.

**د سیمه ایز پناه غوښتنې دفتر څخه د نوي شوي سفر اسناد ترلاسه کولو لپاره، تاسو باید لاندې اړین سندونه له ځان سره ولرئ:**

- ستاسو وروستي سفري سند
- ستاسو د اوسیدو جواز (ADET)، کوم چې باید اعتبار ور وي
- د رسید ثبوت (بارکوډ) چې تاسو د پاسپورت دفتر / بهرنیانو دڅانګې څخه ترلاسه کړی